# جدیدیت، ما بعد جدیدیت او پښتو ادب

## یوه علمي څېړنه

(پاتې برخه)

عارف تبسم

**د جدیدیت او ما بعد جدیدیت مقائسه:**

کۀ څۀ هم پورته ذکر شوے صورتحال مونږ ته د جدیدیت او مابعد جدیدیت یو لنډ غوندې پس منظر وړاندې کوي او تر څۀ حده پورې مونږ په دې نتیجه رسوي چې کۀ څۀ هم د جدیدیت او ما بعد جدیدیت د طریقۀ کار، وضع قطع او حکمت عملۍ په اړه له یوۀ بل څخه څۀ جدا ښکاري خو د مقصد په اړه تر ډېره حده دواړه یو دي، خو دلته بیا هم زۀ غواړم چې ځینې خصوصیات یا عناصر داسې وړاندې کړم چې د هغې له لارې د جدیدیت او ما بعد جدیدیت څۀ مقائسه وکړو.

جدیدیت د مذهب په ځائے عقلیت پسندي، د اجتماعیت په ځائے انفرادیت، د روحانیت په ځائے مادیت، د ما بعد الطبعیاتي په ځائے سائنسي ترقۍ ته زیاته ترجیح ورکړه، لېکن مابعد جدیدیت د تاریخ په ځائے ثقافتي مطالعې ته زیات اهمیت ورکړو، د دې دواړو د ځنې خصوصیاتو په اړه نوره مقائسه مونږ په لاندینۍ کرښو کښې څۀ داسې کولے شو.

**جدیدیت:**

1) له مادي صداقت څخه انحراف او د مجرد ثقافت تکل.

2) د 1920 او 1930 اعلے جدیدیت، په سیاسي فکر اغیز.

3) بېګانګي، له سائنسي او منطقي لارو معاني سنجېدې او پېدا کېدے شي.

4) تسلط او ترقي، ماضي په حال او مستقبل اثر اچوي.

5) کمیت پسندي، آفاقیت.

6) د فن او سائنس کارونه مونږ له صداقت سره اشنا کوي.

7) یوائې اعلے ثقافت د مطالعې وړ دے.

8) سائنس، منطق او عقلیت زیات مهم دے.

9) لوئې سائنسي نظریې او مرکزیت.

10) فن د ثقافت د تحفظ په ځائے د ثقافت تخلیق کوي.

11) فن د سرمایه دارانه نظام مخالفت کوي.

12) د ښۀ او بد تمیز او د فن تنقید ارزښت لري.

**ما بعد جدیدیت:**

1) په نړۍ کښې هيڅ اټل صداقت نشته چې هغه په ټول کائنات کښې ومنل شي.
2) هيڅ قطعي صداقت نشته، هر څيز له بل څيز سره په تعلق کښې کتل کېدے شي.
3) متن نړۍ په خپله د متن او مباحث پرېماني ده.
4) مستقبل غېر يقيني دے، ماضي يواځې متن دے، مونږ له ماضي زدکړه نۀ شو کولے، مونږ يواځې په حال کښې اوسېدے شو.
5) مقاميت او تنوع.
6) د فن او سائنس کارونه يواځې متن دے چې په خپله په خپل ځان کښې سنجول کېدے شي.
7) هر څۀ پاپولر کلچر دے او د مطالعې وړ دے.
8) سائنس د جوړېدو لوبه ده نۀ چې د دريافت کېدو.
9) کوچني سياسي کوششونه او لامرکزيت.
10) فن د مختلفه طرزونو او سټائل نمونه ده.
11) فن د سرمايه دارانه نظام دپاره دے.
12) هر څۀ Relative دي ښۀ او بد هيڅ نشته.

دا مقائسه د انساني ژوند د ځنې اړخونو په اړه مونږ ته د جديديت خصوصيات راښيي خو دا خبره په پام کښې ساتل پکار ده چې کۀ جديديت مونږ د يو مجرد صداقت په خوا بيائي نو ما بعد جديديت هيڅ اټل حقيقت نۀ مني، په دواړو صورتونو کښې دا د مذهب په حقيقت او د فطرت په صداقت نۀ يواځې سوالونه پورته کوي، بلکې يو رنګه يو مخ انکار ځنې کوي، هم دغه رنګه کۀ چرې جديديت فن د ثقافت د امين په ځائے د نوي ثقافت د تخليق دپاره ګڼي نو مابعد جديديت فن ته يواځې د سټائل نمونه وائي چې په دواړو حوالو ئې له انساني ژوند سره ډېر کمزورے تړون پېدا کوي، کۀ چرې مونږ په سياسي توګه دا منو چې جديديت د لويو سياسي نظريو خبره کوي او ما بعد جديديت د کوچني سياسي کوششونو ذکر کوي نو دلته له لويې سياسي نظريو څخه مراد د سرمايه دارانه نظام نظريه، د مغربي طرز جمهوريت او آزادۍ سوچ دے چې د عامو خلقو يوه لويه برخه د دې لوبې له کبله له سياسي ميدان څخه لرې ساتي او هم دارنګه له لامرکزيت او کوچني سياسي کوششونو څخه مراد خلق په خپلو وړو وړو مسئلو پورې محدودول دي چې دا بذات خود يو غېر سياسي عمل دے چې عام اولس له لويو سياسي نا انصافيو او استحصالي ظلمونو له سنجولو او د دې خلاف د آواز پورته کولو څخه راڅغوري.

## جديديت، مابعد جديديت او پښتو ادب:

کۀ مونږ د اردو ادب په اړه خبره وکړو نو به دا څرګنده شي چې به قول د ګوپي چند نارنګ په اردو ادب کښې جديديت د ترقي پسند تحريك په ضد په وجود کښې راغلے، کۀ ترقي پسندۍ د سياسي سوچ خبره کوله نو جديديت ادب له هر قسم نظريو څخه د خالي او خالص ساتلو خبره کوله کۀ څۀ هم په پاکستان کښې په اردو ادب کښې او بيا له دې لارې په پښتو ادب کښې جديديت د غېر سياسي کېدو اعلان کولو خو زما په خيال چې څنګه جديديت په نړيواله سطح د غېر سياسي کېدو په بڼه کښې يو بشپړ سياسي کردار لوبولو او د سرمايه دارانه نظام دپاره ئې لارې پرانستې، هم دغه رنګه په اردو او پښتو ادب کښې جديديت د غېر سياسي کېدو

مقصد به ذات خود سياسي ؤ، چې نۀ يواځې د ترقي پسندۍ د اشتراکي نظريې لاره ونيسي بلکې په ادبي بڼه کښې هر هغه صلاحيت ختم کړي چې هغه خلقو ته د څۀ آزادۍ يا د حق خبره رسوي ځکه خو د جديديت لويه کاميابي په ادب کښې د تجريديت خورونه ده چې زما رنګه خلق نۀ پرې پوهېږي او نۀ ترې خوند اخستے شي، د جديديت له لارې په هيئت او اسلوب کښې د ناشونو تجربو زما په خيال نۀ څۀ مقصد شته او نۀ څۀ معنٰي شته.

کۀ چرې مونږ لږ شاته تاريخ وګورو نو به ښکاره شي چې د 1857 د برصغير د آزادۍ د جنګ نه پس سر سيد هغه وخت لا په برصغير کښې د جديديت د تحريک آغاز کړے ؤ، د دې تحريک مقصد د برصغير مسلمانانو ته د انګرېزانو د جديد تعليم د حاصلولو او د انګرېزي حکومت د برخه جوړېدلو ترغيب ورکول وو، کۀ څۀ هم د پاکستان په تحريک کښې د سر سيد تحريک ته ډېر ارزښت ورکول کېږي خو تجزيه مونږ ته دا ښائي چې دې تحريک په اصل کښې مسلمانان د دې دپاره تيارول چې هغه نۀ يواځې د جديديت برخه شي، بلکې د انګرېزي حکومت د نوکرانو په طور د هغوي قبضې او نوآباديت ته نوره وده ورکړي، ګوا يو رنګه د جديد تعليم او د جديديت په بڼه کښې د برصغير غلامۍ ته دوام ورکول وو، هم د سر سيد دغه تحريک په ادبي سطح هم يو رنګه اغيز پېدا کړو، له دې نه پس د مولانا حالي ادبي کاوشونه په اردو ادب کښې د جديديت په اولنيو کوششونو کښې شمېرل کېږي خو دا خبره په خپل ځائے زياته مناسبه ښکاري چې په پاکستان کښې په ادبي سطح جديديت د ترقي پسندۍ په خلاف زيات جوت راښکاره شو او هم دغسې په پښتو ادب کښې هم له دغه لارې د ترقي پسندۍ او جديديت تحريک را داخل شو.

کۀ څۀ هم دا دواړه تحريکونه د پاکستان تر جوړېدو له مخه لا زمونږ په ادب ننوتي وو، ځکه دا دواړه خپله خپله حلقه لري. څوک چې د جديديت علمبرداران وو، هغوي جديد فکر په مخ وړلو، د هغوي په فن کښې اجنبيت، ذات پرستي، ويره، تنهائي او ياسيت زيات جوت ښکارېدو او څوک چې د ترقي پسندۍ نظريې ملګري وو، د هغوي په خپلو فنپارو کښې يو انقلابي فکر او د انساني ژوند حقيقتونه ښکاره کولو کوشش کولو خو زما په خيال په پښتو ادب کښې تر ډېره حده دا دواړه تحريکونه کنفيوزډ دي او يا په ځينو ليکوالو کښې په يوۀ وخت دا دواړه رجحانات ليدل کېږي، بلکې کۀ دا ووايم چې زمونږ زياتره ليکوال د ترقي پسندۍ او جديديت په صحيح روح لا نۀ دي خبر نو به هم شايد مغالطه نۀ وي، ولې چې د دې په اړه څۀ ډېر بحثونه په مخه نۀ دي راغلي.

د جديديت په اړه د پروفېسر ربنواز مائل او د ترقي پسندۍ په اړه د سليم راز د ځينو ليکونونه علاوه څۀ داسې مواد تر مونږ نۀ دي رارسېدلي چې د جديديت او ترقي پسندۍ بشپړه څېړنه ئې کړې وي، خو بهر حال د نورو ډېرو ليکوالو په شاعرۍ، افسانه او نورو ليکونو کښې د جديديت يا ترقي پسندۍ آثار ضرور ليدل کېږي خو زما خيال دا دے چې په دې کښې د ځنې ليکوالو نه علاوه د نورو

شعوري کوششونه کم دي او د دې قبيلې د ليکوالو له ليکونو څخه اخستے اثر زيات معلومېږي.

دلته ما د جديديت او ترقي پسندۍ د دوو مکتبهٔ فکر او نظريو په اړه خبره کړې ده چې په دې انداز زيات نهٔ دي څېړل شوي، ځکه دا لږه ګرانه خبره ده چې دا ووئيل شي چې په پښتو ادب کښې د جديديت ابتداء کله وشوه، د دې ارتقائي عمل څنګه دے او څهٔ اثرات ئې پرېښې دي خو دا خبره په خپل ځائے يو حقيقت ده چې د دې دواړو له اثراتو به پښتو ادب خالي نهٔ وي اوس خو دور د مابعد جديديت دے کهٔ څهٔ هم زمونږ ليکوال لا د مابعد جديديت د صحيح معنٰي په لټون دي خو د دې مطلب دا نهٔ دے چې د مابعد جديديت اثرات زمونږ په ادبي فنپارو کښې نشته، دلته د مثال په توګه ډېر داسې شعرونه او افسانې وړاندې کېدے شي چې هغه د مابعد جديديت له اثراتو ډکې دي، خو دا اثرات د مابعد جديديت په اړه د شعوري سنجونې په ځائے د اردو يا نورو ژبو د ادبي فنپارو د مطالعې له لارې راغلي دي خو دلته دا هم وئيلے شو چې کومې فنپارې تر دا اثر لاندې وړاندې شوې دي هغه تر ډېره حده مجرد او له ابهامه ډکې دي، په دې فنپارو کښې داسې علامات، هېئتونه او اسلوب پکار راوستل شوے دے چې عام فهم نهٔ دے، له دې نه پرته چې د پښتو ژبې اديبانو د خپلې ټولنې کوم اړخونه په عام فهم اسلوب کښې د خپلو فنپارو موضوع ګرځولي دي، هغه لا تر اوسه په پښتني ادب د مابعد جديديت له بشپړې اغيزې څخه لرې دي خو ضرورت دلته د دې خبرې دے چې زمونږ ليکوال د جديديت او مابعد جديديت په صورتحال بايد خبر وي، ځکه کهٔ د دې صورتحال اثرات په لاشعوري توګه د هغوي په ليکونو کښې راځي نو دا زمونږ ادب له انسانانو او د هغو له ژوند څخه نور هم لرې کولے شي او کهٔ چرې مونږ د جديديت او مابعد جديديت شعوري ادراک ولرو نو کېدے شي چې مونږ خپل ادب د دې له اثراتو څخه لرې وساتو، ولې چې په خصوصي توګه د مابعد جديديت دا دور د انسانيت د بې قدرۍ او له انساني قدرونو څخه د انکار دور دے، په دې دور کښې انسان او انساني جذبات هم د مصنوعاتو رنګه اخستل او خرڅول کېږي، دې عمل ته ګلوبلائزېشن وئيلے شي چې د لويو قوتونو تر ميان د آزاد تجارت د منډې د معيشت لوبه ده چې په کښې هغه هېوادونه برے تر لاسه کولے شي د چا چې مجموعي قامي پېداوار او وسائل تر نورو زيات وي.

په دې مابعد جديديت دور کښې کهٔ يوې خوا ته د مېډيا له لارې د اشتهارونو په ذريعه صارفيت ته دوام ورکول کېږي نو هم د دغه مېډيا له لارې د طاقتور په حق کښې د عامو خلقو رائې هم خلق کېږي چې په مکمله توګه د عامو خلقو د سياسي کردار زوال دے، هم د دغه مابعد جديديت دور له کبله عام خلق د خپل بشپړه سياسي کردار، علمي برخې، مذهبي عقيدو، روحاني قدرونو او تهذيبي شناخت څخه لرې کېږي.

زما ذاتي خيال دا دے چې جديديت دے او کهٔ مابعد جديديت دے، دې دواړو په اصل کښې ادب او ادبي بحث دومره کړکېچن کړے دے، چې په خپله ليکوال لا په ډېر مشکل د دې حقيقت ته

رسېږي، دغـه بحـث د ادب دائـره هـم يـوائې تـر ليکوالو پورې رارسولې ده او عام لوستونکي ئې له دې بحث څخه ډېر لرې کړي دي، زما په خيال دلته يوائې عام لوستونکي نهٔ دي لرې کړي شوي بلکې ادب ئې هم د انساني ژوند، ضرورتونو، جذباتو او احساساتو څخه تر ډېره حده لرې کړے دے، ولې چې په ادب کښې د جديديت، مابعد جديديت، ساختيات، پسِ ساختيات، تعميريت، لا تعميريت، اثباتيت، وجوديت او د ارنګـه نـورو بـې شـمېره مباحثو پـورې محـدود کـړل شـوي دي چې د دې سنجونه د يو عام لوستونکي د وس خبره نهٔ ده او نهٔ عام لوستونکي له دغه مباحثو سره خپل څهٔ تعلق لرلے شي، ځکه خو په دې يوائې ادب پوهان خبره کوي او نور ادب ليکونکي ئې لولي.

زهٔ دا نـهٔ وايـم چـې زمـونږ ليکـوال دې د دې تحريکونو د بحث برخه نهٔ جوړېږي، زما مطلب دلته يوائې دا دے چې مونږ د دې تحريکونو بشپړ جاج واخلو، دا يوائې ادبي تحريکونه ونهٔ ګڼو، بلکې د دې تجزيه په ټولنيزه او هر اړخيزه توګه وکړو، د دې په مضمراتو، ښهٔ او بد اثراتو نهٔ يوائې ځان خبر کړو، بلکې په ډېرو اسانو ټکو کښې ئې تر خپلو لوستونکو پورې هم ورسوو او بيا په خپله شاعرۍ، افسانه، ناول او ډرامو کښې د دې د پرچار په ځائے او يا د دې د اثراتو د پرمخ وړلو په ځائے له نوي سره د ادب او ژونـد تعلـق د خپـل تهـذيبي، مـذهبي او روحاني تشخص او قدرونو سره سم مخ په وړاندې يوسو.

## کتابيات


1- ادب کـا بـدلتا منظرنامـه- اردو مابعـد جديديت پر مکالمه ګوپي چندنارنګ.

2- مابعـد جديـديت: مضـمرات او ممکنـات، وهاب اشرفي.

3- انګريـزي ا دب کي مختصر تـاريخ.. ډاکټر محمد يٰسين.

4- ادب، کلچـر اور مسـائل... ډاکټـر جميـل جالبي.

5- نئي تنقيد.. ډاکټر جميل جالبي.

6- ادب تنقيد او فکر.. پروفېسر ربنواز مائل.

7- تنقيدي کرښې... سليم راز.

8- د انټرنېټ ځينې پاڼې.